# د سویډن د مالمو په ښارکې درنه ادبي غونډه جوړه شوه




د روان م کال دسپتمبر پر ۲۰مه نېټه دافغانستان د پیاوړي شاعر عبدالوهاب سرتېر د شپېتم پسرلي درارسېدو په مناسبت په سویډن کې د افغانانو د علمي او فرهنګي مرکز په نوښت او زیار درنه ادبي غونډه جوړه شوه .

دغونډې کارچې د دوو ځوانانو هر یواغلې زهل ساپۍ او ځوان شاعر نیازمحمد پیاوړي لخوا پر مخ بېول کېده، په لومړي سرکې دالحاج سخي ګل ساپي لخوا دقرانکریم د څو مبارکو ایاتونو په تلاوت سره پیل شوه .

مخکې له دېنه چې غونډه د افغانانو دعلمي او فرهنګي مرکز او دوستۍ فرهنګي ټولنې دمشر حبیب الله غمخور په پرانېستونکې وینا پیل شي د راغلو مېلمنو هر یو ، تاریخ پوه ښاغلي کاندیداکادمیسین محمد اعظم سیستاني ، اغلې نجیبې سارابیاباني ، پیاوړی شاعر عبدالوهاب سرتېر، دبي بي سي راډیو ویانده اغلې نجیبې لېمې او دوه تنو دسویډن د دولتي اوفرهنګي ارګانو استازو ته بلنه ورکړل شوه  تر څو ددوی لپاره ټاکل شویو ځایونو ته تشریف راوړي، همدا ډول ښاغلي غمخور په سویډن کې دافغانانو علمي اوفرهنګي مرکز د مشرتابه څخه غوښتنه وکړه هغه لونګۍ چې د ټولنې لخوا ښاغلي سرتېر صاحب ته ډالۍ شوېده په افغاني دود هغه ته ورپرسر کړي ، دڅو تنوافغاني پېغلو څخه یې غوښتنه وکړه چې دټولنې لخوا برابرې شوې ډالۍ درنو مېلمنو ، اغلې نجیبې لېمې، ښاغلي سیستاني صاحب ، اغلې نجیبې سارا بیاباني او دوو سویډنیانو ته وړاندې کړي .




د ښاغلي حبیب الله غمخورتر پرانیستونکې وینا وروسته لومړی دافغانستان پیاوړې شاعرې اولیکوالې اغلې نجیبې سارابیا با ني څخه او ورپسې دافغا نستان د پیاوړي لیکوال او تاریخ پوه کاندیداکادمیسین محمد اعظم سیستاني څخه غوښتنه وشوه دموضوع په اړوند خپلې ویناوې دغونډې برخه والو ته واوروي . همداډول په ډنمارک

کې مېشت افغان لیکوال پوهنمل حاجي محمد نوزادي ، له ناروې څخه راغلي تکړه شاعر هنرغیرت په لندن کې مېشت دټوکوټکالو مشهور افغان لیکوال ښاغلي پیرمحمدباوري ، دبي بي سي راډیو پېژندل شوې ویانده اغلې نجیبه لېمې ، په ایران کې د اد بیاتو پخوانی استاد ډاکتر معنوي ارژنګ لخوا د مبارکۍ ویلو په ویناوو غونډه نوره هم درنه او ښکلې شوه.

نوموړې درنې او پرتمینې غونډې ته له ډنمارک څخه ښاغلی صدیق ننګ، ښاغلی عبدالمالک بېکسیار، ښاغلی ودیر ساپی، ښاغلی بهرام او ګڼ شمېر نور دوستان هم راغلي وو.

دغونډې په ادرس دنړۍ دمختلفو هېوادونه دفرهنګي ټولنو ، علمي او فرهنګي شخصیتونواو د ښاغلي سرتېر صاحب بې شمېره شاګردانواو دشعر مینه والو لخوا دبرېښنا لیک او ټلیفون په مټ پیغامونه رارسېدلي دي چې دهغې جملې نه دامریکا دمتحده ایالاتو څخه دافغانستان وتلي شاعر، لیکوال او څېړونکی عبدالباري جهاني د هالنډ څخه د سلام فرهنګي ټولنې دمشرتابه جرګې په استازیتوب پوهنوال رسول باوري له هندوستان څخه پوهنوال خالق رشید د افغانستان څخه د افغانستان د راډیو تلویزیون رئیس او پیاوړي لیکوال ښاغلي واحد نظري ، له کابل څخه ښاغلي غلام نبي مبتکر، د استرالیا څخه محترم هدایت اله هدایت ، له انګلیستان څخه دپیاوړي شاعر نظیف الله تکل،له دوبۍ څخه دښاغلي رحمتي ګیلانوال،له استرلیاڅخه دافغان استرلیا د بشر دوستا نو ټولنې،له ستاکهلم څخه ښاغلي مسعود سرلوځ مرادزي او له کاناډاڅخه دمحمدا صغرعبادي له استرلیا څخه عزیز احمد فرد له کاناډاڅخه ډاکتر ثریاخادم اوښاغلي ځاځي صاحب ،له ډنمارک څخه پوهنوال حاجي محمد نوزادي، دجرمني دبایر په ایالت کې دافغانانوکلتوري ټولنې په استازیتوب ښاغلي محمد امین بسمل نومونه یادولای شو . په غونډه کې ددغو ټولنو او شخصیتونه پیغامونه ولوستل شوه .

دیادولو وړده چې پدې غونډه کې په مالموکې دافغانانو کلتوري اتحادیې مشرتابه جرګې ، اریاناکلتوري ټولنې ، ارلوف اولوندکې افغاني کلتوري ټولنومشرتابه جرګو په لندن کې تکړه شاعر ښاغلي مفتون صاحب ، دټوکو ټکالو مشهور لیکوال ښاغلي پیرمحمدباوري، په انګلیستان کې دافغانانودکلتوري ټولنې دمشرتابه جرګې استازي ښاغلي غلام حضرت اعظمي ، په ډنمارک کې دافغانستان دفرهنګ ټولنې مشرتابه جرګې غړو اوهلته مېشت پېژندل شووافغان شاعرانو ، ښاغلي صدیق ننګ ، ښاغلي ودیرساپي ، ښاغلي عبدالمالک بېکسیار، په لوندکې مېشت افغان شاعر غفورامیني ، په مالمو کې میشت افغان شاعرانو ښاغلو عبدالباقي تلاښ ،سلام اندړ اوځوانو شاعرانو قدرت الله ،امید زدراڼ ، قدوس رحمتزي او نورو فرهنګیانو ګډون درلود چې نوموړې غونډه یې لا پرتمینه کړې وه.

د مقالو او پیغامونو په منځ کې دافغاني پښغلولخوا دښاغلي سرتېر صاحب او نورو شاعرانو په زړه پورې شعرونه زمزمه شول . دپیغامونواو ویناو تر اورولو وروسته دمشاعرې د پروګرام پیل شوچې په لومړي سرکې ښاغلي عبدالوهاب سرتېر ته بلنه ورکړه شوه ترڅوپه خپل ښکلي اواز خپل په زړه پورې شعرونه دغونډې برخه والوته واوروي .

ښاغلي سرتېر صاحب چې کله دستیج سرته ته تشریف راوړ د چکچکو او ولولو په غږ کې یې دغونډې
دکوربه ټولنو څخه د خوښۍ اومننې په
څرګندولوسره وویل :
زمالپاره دویاړځای دی چې نن یوځل بیا
دسویډن دمالمو په ښارکې د اوسېدنکو
افغانانو سره پدې درنه ادبي غونډه کې چې ماته
ډالۍ شوېده برخه اخلم . ستاسویې کور ودان
چې دداسې درنې غونډې په جوړېدوسره خپل یو
حقیر اوفقیر شاعر هڅوی .
تر دغه څرګندونو وروسته ښاغلي سرتېر
صاحب په خپل زړه راکښونکي او له افغاني
احساساتوڅخه ډک اوازدشعرونو په
ویلودغونډې برخه وال ونازول .




تریوې لنډې تفریح وروسته دخوږ اوازه سندرغاړي اما ن الله امیري په مشرۍ په ډنمارک اومالموکې افغانو هنرمندانو ، همایون صاحبزی ، ادریس جبارخېل ، قدوس رحمتزي ، هارون تیمور او بهیر امیري لخوا ښاغلي سرتېر صاحب ته ځانګړې دموسیقي په زړه پورې پروګرام ډالۍ شو.
غونډه تر روژه مات وروسته دشپې پر ۸ بجو او ۳۰ دقیقو پیل او دشپې پر ۲ بجو پای ته ورسېده .
په درنښت هیوادشیرزاد

........................................................................................................................

پرانیستونکې وینا

په نامه دهغه خداي مي دا بیان دئ
چې یونوم یې په نوموڼو کې سبحان دی



دسویډن دمالمو په ښارکې دافغانستان دپیاوړي شاعر او ادبي شخصیت ښاغلي سرتیر صاحب دشپېتم پسرلي درارسېدو په مناسبت دنړۍ له مختلیفو هیوادو نه راغلو پوهانو ،فرهنګیانو او فرهنګپالو!
اجازه راکړۍ په سویډن کې دافغانانو علمی اوفرهنګی مرکز په استازیتوب تر هر څه وړاندي له تاسودرنو میلمنو ،پوهانو ،فرهنګیانوپه اروپا کښې دفرهنګی ټولنواستازو ،شاعرانو او ښاغلي سرتیر صاحب دشعر مینه والو ته چې په دغه درنه ادبي غونډه کې ئې دګډون لپاره دنړۍ دمختلفو هیوادو څخه تشریف راوړی دزړه په مینه دښه راغلاست په وېلوسره تاسو ټولو ته کورودانی وایم ،هرکله راسۍ خداي موراوله .
اغلو اوښاغلو!
زموږ ننۍ ادبي غونډه چې د۲۰۰۸ زکال دسپتمبر پر شلمه دسویډن دمالمو په ښارکې جوړه شوېده دافغا نستان دپیاوړی اوپېژندل شوی شاعر ښاغلي سرتیر صاحب دعمر دشپېتم ګل دغوړېدودلاري څارلوته ډالی شوېده . زه پداسي حال کښې چې خپل دقدروړمېلمه ښاغلي سرتیر صاحب ته دروغتیا ،ښېرازه اوهوساژوند ددوام هلیه کوو ،هیله مند یم چې دسرتیر صاحب دقلم رنګ هیڅکله هم وچ او احساس ئې مړژواندئ نشي،سرتیرصاحب په خپله ادبی اوشعري سرتیری کښې تل ځلانده اوپیاوړی غواړم .
دوستانو!
زموږ دپاره دویاړ ځاي دی چې نن موږدافغانستان دوتلی تاریخ پوه اوغښتلي څېړنیز قلم خاوند کاندید اکادمیسین محمد اعظم سیستاني ،دافغانستان پېژندل شوې شاعره ،لیکواله ، پیاوړې فرهنګی څېره اویوه غښتلې مورچې خپل ټول اولادونه ئې په یوازي سره دثمرهغو مرحلوته رسولې چې موږ هریوپرې ویاړو اغلي نجیبه سارابیاباني اوځوانه ولي هڅانده اودروزګار دتودواو سړو سره په جګړه کي رالویه شوې اوپېژندل شوې څیره دبي بي سي راډیوویانده اودمختلفو پروګرامو نوجوړه ونکې پرتلاښه فرهنګیالی اغلې نجیبه لیمه اونورتاسو غوندي درانه شخصیتونه ،فرهنګیان اوفرهنګپال پدې درنه ادبی غونډه کي له ځان سره لرو .
اغلو اوښاغلو!
دسرتیر صاحب په ویاړ ادبي غونډه کې دبرخي اخیستلولپاره د انګلیستان ،ناروي ،ډنمارک،اوانګلیستان نه زموږ دهیواد پیژندل سوی شاعرانو اوفرهنګي څېرو ،دفرهنګې ټولنواستازواودسرتیر صاحب دشعر مینه والو تشریف راوړئ دی . زموږ لپاره دویاړ ځاي دی چې زموږسره دسویډن دمالمو دښار ددولتي او فرهنګې ادارو استازي ، دسویډن دمختلفو ښارولکه ګوتنبورګ ،لاندس کرونا ،لوند ، هلسنبوري ، ارلوف دافغاني فرهنګي ټولنودمشرتابه جرګو استازي مستقل شخصیتونه دمالمو په ښار کي دNBV ،
Studeförbond Voxanskolan اودمالموپه ښارکي دیوشمیر نوروافغاني فرهنګی ټولنواستازي برخه لري .
غواړم په خوښی سره تاسوته خبر درکړم چي همدا شان دنړۍ دمختلفو هیوادو څخه زیات شمیر افغاني لیکوالو اوپوهانو دسرتیر صاحب دشپېتم پسرلي درارسېدو په مناسبت ددې ادبی غونډې په ادرس له محتواډکې لیکنې اوپیغامونه رالیږلې دي،زه یې دوخت دکمښت په خاطر دټولو دیادولونه ډډه کوم ، دټولو څخه دمننې په څرګنده ولوسره دېلګې په توګه له دامریکادمتحده ایالاتونه دافغانستان وتلي شاعر،لیکوال اوڅېړونکی عبدالباري جهاني دهالنډ څخه د پوهنوال رسول باوري، له هندوستان څخه پوهنوال خالق رشید دافغانستان دراډیو تلویزیون رئیس اوپیاوړي لیکوال ښاغلي واحد

نظري دافغانستان څخه ښاغلي غلام نبي مبتکر ،داستراليانه دمحترم هدايت اله هدايت ،له انګليستان څخه دپياوړی شاعر نظيف الله تکل ،له دوبی نه دښاغلي رحمتي ګيلانوال ،داسترليانه دافغان استرلياډبشردوستانو ټولنې ، له سټوکهولم څخه ښاغلي مسعود سرلوڅ مرادزئ اوله کاناډاڅخه دمحمدا صغرعبا د ي له کوزي پښتونخوادپښورله ښارنه ښاغلي سيدعثمان سنجش ,دجرمني دباير په ايالت کي دافغانانو کلتوري ټولنې ،له سټوکهولم څخه ښاغلي مسعود سرلوڅ مرادزئ نومونه يادولاي شو .

هيره دي نه وي چي ددې درنې غونډي په نامه له کابل،کندهار،هلمند ،غزنې ،ننګرهار، فراه،خوست ،مزارشريف ،کندوزاو يو شمير اورپايي هيوادوکښي دافغانانو دفرهنګي ټولنو ،فرهنګې شخصيتونو اودښاغلي سرتير صاحب دشاګردانولخوادبرېښنا ليک په مټ پيغامونه او دهمدردۍ دڅرګندولوليکونه رارسيدلې دي .

زموږ يوزيات شمير هيوادوالوپه خپلو برېښناليکونوکښي خپل دميني ډکوسلامونواوپيرزوينوپه وړاندي کولوسره ليکلې دي چي تاسوټولو دوطن نه ليري خويندو ،وروڼو اوپه سويډن کښي دافغانانو دعلمي اوفرهنګي مرکز ددي فرهنګي نوښت چه دافغانستان ديوپېژندل سوی شاعر په وياړ مو درنه ادبی غونډه رابللې ده دستاينې په څرګندولوسره تاسو ټولوته مبارکي اوکورودانۍ وايو.

که څه هم ښاغلي سرتير ټول شعرونه په پښتو ژبه ويلي ولې پدې ورستيوکښي زماسره دهغه دشاګرادانو اوعلاقمندانويوپه بل پسي اړيکي اوددې غونډې دجوړېدونه هرکلي ددې روښانه بېلګه ده چي داپياوړی شاعر دټول افغان ولس شاعر اودهغوي ددرناوي وړشاعر دی ،دبېلګې په توګه دستير صاحب يو شاګرد په خپل رالېږل شوی پیغام کي ليکي : ((من که ا زجمله صد ها شا ګرد آ موزګا رپا ک نفس ؛ بی تعصب ، خوش بیا ن وخوش قیا فه ا ستا د عبد ا لوها ب سرتیرمیبا شم ، برګذ ا ری محفل وګرد هما ئي ( تجلیل و بزرګد ا شت ا زکا رکرد ها ی ا د بی بخصوص شعر و شصتمین سا لروز تولد شا ن ) را ،حضورا ستا د ګرا می وهمه ي د وستد ا را ن شعرو ا دب تبریک عرض کرد ه ، د رحا لکه زحما ت برګذ ا رکنند ګا ن محفل را می ستا یم ؛ فقط میخوا هم با کما ل ا د ب وبد ورا زهرنوع تعصب بګویم : ا ستا د سرتیر، سرتیرهمه بود ه ،هست وخوا هد بود نه یک زبا ن خا ص .

ا ستا د سرتیر د ردورا نکه د رلیسه عالی حبیبیه تد ریس مینمود ند ،به شا ګرد ا نش که ا زنقا ط مختلف کشوربود ه وبزبا نها وا قوا م مختلف وبهم برا دروطن عزیزتعلق دا شتند ،همیشه د رپهلوی تد ریس ادبیات پشتوما نند هرا را ن آ موزګا ر د یګر وطن، د رس صد ا قت ، برد ه با ری، ا عتما د به نفس ،وطن د وستی وا نسا ن د وستی را میآ موختند . هیچګا هی تعصب ند ا شته وبا شا ګرد ان مسلم ، ا هل هنود، شما ل وجنوب ، شرق وغرب د رحا ليکه ا زا توریته وا نظبا ط خا صی برخورد ا ربود ند ،را بطه ی بسیا رمحکم ، نزد یک ود وستا نه دا شتند . )) دغه ډول پيغامونه نه يوازي داچي دښاغلي سرتير صاحب شعري او ادبی چوپړ ته دافغا نانو درناوي په ګوته کوي ،بلکه يوبله اوډيره مهمه مسله هم راڅرګندوي، هغه داچي دمعلم يا ښوونکی مقام څومره اوچت دی ،دګه برېښناليکونه اوټليفونونه ددې روښانه بېلګه ده چي سرتير صاحب په رښتيا سره خپلو شاګرادونوته دانسانيت ،صداقت ،صمېميت ،هيوادپالنې او افغان دوستی درس ورکړی مځکه خوتراوسه دخپلو شاګردانوددرناوي وړدي .

درنو دوستانو!

په ځينو پيغاموکي ليکل شوی دي :

تاسو خبر یاست موږاوس دبدمرغیو اوناخوالوسره لاس په گریوان یوچي هرڅه ئي رانه هیرکړی دي . شپه او ورځ لوي او واړه،نارینه اوښځې یوازي دژوندي پاته کېدواوعزت ساتلوپه تلاښ کي یو ،په یوه خبره موږ ستاسو وطنداران هره لحظه ددوبلاوسره چي یوه ئي نا امني اوبله ئي دولتي مامورین دي لاس په گریوان یو . خوکله چه په بهر کي خواره واره افغانان داډول علمي اوفرهنګي غونډي جوړوی ،په رښتیا سره د خوښیو اوښکی موپه سترگوکي ټوپونه وهی اوله ځان سره وایو ،خدایه داڅومره ښه کاردی ،خیرکه پرموږقهر شوی ئې ، دیوه اوبل ،دخپل اوپردی پوسیله تاراکړی ژوند رانه اخلې ،خوپه بهرملکونو کښي شکردادی افغانان شته چي یوه ورځ دوي اویاددوي بچی ددې خاوري عزت اوپت وساتي اودهغوپر قبر اوربل کړی کومو چي موږ اوزموږ خاوري ته ئې په سپکه سترگه کتلې ،اوموږ ئي تردې کچي زورولی یوچي دماشومانواومیندوله چیغو مو اوس عرش عظیم لړزیږي .سره لدې چي په بهرکي به هم دداسي غونډو جوړول اسانه کارنه وی خوپه هر حال ستاسو دژوند حالت ترموږ ښه دی ،ستاسونه غواړودغه معمول وساتی اودخپلوویاړلو شخصیتونو درناوی اویادوکړی . هیله موداده چي که افغانان یاست یوه لحظه دغه دپردوپلاس بل شوي اورکي وریت افغانستان مه هیروی ،زموږدامید سترگی یوزاي ستاسوپه لورکږې دي ،موږکه دلته دشکایت خوله وازه کړو نوسرمو را باندي غوڅوی .

درنو دوستانو! له ډوبې نه ښاغلي رحمتي ګیلانوا ل دخپل پیغام په یوه برخه کي لیکي : ((تاسوښه یاست ډیري اسانتاوي لري غږونه موهرځاي ته رسیږي اوغوږونه هم درته نیول کیږي . خوډیر افغانان شته چي پرزړه یي ویني رااوړي خو څه ویلاي نه سي . زموږ غوښتنه له دې درنې غونډي نه داده چي دټولو ژوندیو شاعرانو او پوهانو ستاینه دي په منظم ډول پیل سي ، په داسي غونډوکي چي ډیر پوهان راټولیږئ دپښتوژبي دپیاوړ تیا او داولس د راویښولولپاره دي نوي لاري چاري ولټولي سي ،ټول اولس تاسوته سترګي په لاره دي اودیوي نوي ژغورونکي لاري لټون ته هوسیږي .))

موږ ددوي دغه ملاتړ اوملي احساس څرګندولوته دقدر په سترگه گورواوداوعده ورکووچي دیوه افغان په توگه به یوه لحظه هم خپل هیواد اودازوربدلی اوکړېدلي اولس هیرنکړو.

درنو هیوادوالو!

واقیعت خو دادئ چي تاسو په خپل ګډون ،پیغامونو اوبرېښنا لیکونوسره موږ ته ویاړ راوباخښه اوموږ مونورهم وهڅولو چي دافغاني کلتور دپیاوړتیا اواوویاړلو شخصیتونودرناوي اوقدردانۍ ته تردې لاهم زیاته پاملرنه راواړوواو ددغه ډول درنوعلمي او فرهنگي غونډود جوړېدو جوگه شو.

پر ځاي ئي بولم دټولنې دمشرتابه اوهر هغه چانه چي زموږ سره ئې ددې درنې غونډي په جوړېدو ،دکارونوپه سمبالښت اودمیلمنوپه هرکلي کښي مرسته کړېده دزړه له کومې دځان اوټولنې دفرد فرد غړي په استازیتوب دمننې اوکورودانۍ احساس څرگند کړم . کورمو ودان همدا ستاسو بې سارئ ملاتړ دی چي موږ دمالمو په ښارکې دهر ډول غونډو دجوړېدو جوگه کېداي شو.

زموږ ټولنې دخپل موجودیت په شپږو کلوکي وکولاي شول دهیواد دویاړلو شخصیتونوپه ویاړاوددوي دعلمي اوفرهنگي خدمتونودستایلو په خاطر علمي او ادبي غونډي جوړې کړي .زمور لپاره دخوښۍ او افتخار ځاي دي چي ددې غونډو دجوړېدو په لړ کښي یوځل بیا دادۍ دداسي ادبی اوفرهنگی غوندي دجوړېدو جوگه سولو.

بلې دوستانو!د ویاړونو یادونه یوازې هغه څوک،هغه اولس او هغه ټولنه کولای شي چې دخپل هیواد تاریخ یعني تیر،اوسنیو اوراتلونکوسره علاقه ولري اونه غواړي هرڅه دتاریخ په آرشیف یازیرمتون کې پاته شي . دیوې ټولنې دویاړ نوپه پیژند نې سره د هغه اولس د ښې پیژندنې لپاره اساسي لارپرانیستل کیږي ، ځکه نود ولسونو لپاره دخپلو ویاړونو نمانځنه د هغوی د پایښت اړتیا ګڼل کیږي . همدا لامل دي چې د نړۍ ټول ولسونه او هڅاندي ټولنې د تیرو ویاړونو یاد نه هیروي او لا د نوو ویاړونو د زیاتیدو او هستېدو په هڅوکښې پر مخ درومي .

د داسې ادبي اوعلمي غونډوله جوړېدونه زموږ موخه هم همدا ده تر څوزموږ ځوانان دغه اساسي ټکي ته پاملرنه وکړي چې دوي دخپل هیواد ،کلتوراوجګړه ځپلي ولس په وړاندې څومره ستر مسولیتونه لري.

موږ غواړوپه دوامداره توګه ځوان نسل دغه ټکي ته متوجه کړو چې بایددخپل هیواد دتاریخ اوویاړنو علمي ،ادبي اوسیاسي شخصیتونوپه اړوندکره اودقیق معلومات ورلري . موږ غواړودورته غوندودجوړېدو پوسیله خپل ځوان نسل ته عملأ داپه ګوته کړوچې ددوي دهیوادمنلو شخصیتونوددې لپاره چې وکولاي شي خپلې ټولنې اوبشریت ته ګټور تمام شي ترڅومره کړلېچونواوله کړاونوڅخه ډکولارونه په تیرېدوسره دژوندتر وروستۍ سلګۍ پورې تلاښونه کړي .

درنو فرهنګیانو اوفرهنګپالو!

متاسفانه په افغانستان کې تر اوسه لاد تاریکو پېرېود اندونودخاوندانو واکمني ده، خو د هیواده بهر د یوشمیر روڼ اندو هیوادوالواوکلتوري ټولنو په زیار او هڅو د ویاړونود نمانځنې دودراژوندی اودنړۍ وال معمول سره سم پالل کیږي . دویاړ ځاي دي چې بهر میشتو افغانانو په تیره لسیزه کې نه یوازې داچې د تیرو ویاړونو نمانځنه یې وکړل ، بلکې د خپل دوران ویاړلې څیرې او منلې شخصیتونه یې هم را وځلول . د سویډن د په مالمو ښار کې دافغانانوعلمي اوفرهنګي مرکز اودوستی فرهنګي ټولنې هڅې اوزیار په دې لړ کې هغه ارزښتمن ګامونه دي چې په پر له پسې توګه یې په انساني مینه پورته کړې دي . لا د هیواد د پوهې او ادب پر اسمان دوتلي اونامتو شاعر اولیکوال عبدالباري جهاني د یاد غونډې خاطرې له زړونو وتي نه وې ، چې د دافغانستان دپیاوړو ژورنالیستواودموکراسی دلارې تکړه سرغندیانوپه کابل کښې دمیرمنې دمجلې چلوونکې اغلو جمیلې عزیز اواوس په پارلمان کې دننګرهاردخلو نماینده اغلې صفیې صدیقي په ویاړ یوپه بل پسې درنې غونډې جوړې شوې ،د هیواد د ستر ادیب ، نامتو پوه خدای بخښلي علامه اکادمیسن پوهاند عبدالشکور رشاددوفات دلومړي تلین په مناسبت ستره ګونډه دمالموپه ښارکې جوړه شوه ،دافغانستان دمشهور تاریخ پوه ښاغلي کاندیداکادمیسین سیتاني دشپېتم پسرلي دپیل په مناسبت درنه غونډه او دادی اوس یې دښاغلي سرتیر صاحب دشپېتم پسرلي درارسېدوپه درشل کې ددې علمي او ادبی غونډې ګډون وال یو. زه د دې کلتوري ټولنو ټولو اړوندانو اوملاتړو ته په دې هڅوکي د زړه له کومې د دلازیاتو بریاو دعا کوم .

اغلو او ښاغلو !

دافغانانو علمي اوفرهنګي مرکز دخپلو امکاناتو په چوکاټ کښې دافغانستان دملي کلتور ژوندي ساتلو او ځوان نسل دخپل هیواد دملي او تاریخي تحولاتواو تغیراتو سره په تړاوکي دروزلوپه موخه یو شمیر علمي او فرهنګي نوري غونډې او محفلونه هم جوړکړي دي ، دلته یوه ملي ،مذهبي او تاریخي ورځ بیله یادونې او نمانځنې نه ده تیره شوې ..او پدې کارکښې موږ دوې موخې لرو:

یوداچي خپلې تاریخي ،ملي اومذهبي ورځې اوویاړنې ژوندی وساتو ، اودبله پلوه غواړو ځوان نسل مود افغاني کلتور،دوداو دستور نه بېګانه نشي . هر قوم حق اومسؤلیت لري په بهرکي دخپلې ټولني مثبت او معقول عنعنات ،رواجونه اوکلتوري توکي ژوندی وساتي ،تر څودځوانسل اړیکي له پلارني ټاټوبي اوخپل فرهنګ سره پرې نشي .
ددې درنې غونډې دجوړېدو موخه مو هم همدا ده چې یو خومو دمحترم سرتیر صاحب څه ناڅه حق اداکړی وي او دهغه دادبي او فرهنګي چوپړ قدرداني شوی وي اوله بلې خوا موپه ژوندنې ددخپلو پیاوړشخصیتونو او پوهانودرناوی په یوه عنعنه بدل کړی وي .یو ولس باید دخپلو علمي اوفرهنګي شخصیتونودرناوی دهغه په ژوند کښې وکړي ،تر څوهغه دا احساس کړي چې دهغه دزیار اوزحمت نه دهغهٔ ولس په څومره اندازه قدرداني کوي .
درنو فرهنګیانو او فرهنګ پالو!
هغه څوک چې نن دمالمو په ښارکې دهغه دادبي اوفرهنګي چوپړ اودژوند دشپېتم پسرلي درارسېدوله امله دا درنه غونډه جوړه شوې له نن څخه نږدې شپېته کاله پخوا په ښکلي ننګرهاردګلوهارکي دې نړۍ ته سترګې پرانستي دي.
ښاغلي عبدالوهاب ((سرتیر)) دحاجي عبدلغني زوی ،په ختهٔ موسی زئ کوچي او په ۱۳۲۸ ل کال کښې دننګرهار دسره رود(سرخ رود) دموسی زیو کلا کې زېږېدلی دی .زده کړې ئي دسید جما ل الدین افغان دښوونې اوروزنې په موسسه کې پای ته رسولي دي . سرتیر صاحب تر ۱۳۵۸ ل کال پوري دحبیبې اواستقلال په لیسو کې دپښتوژبې او ادبیاتو ښوونکی و ،چیري چې سرتیر صاحب وکولا ی شول بې شمیره ځوانان دپاکی ،صمیمیت اوملي یووالي په روحیه وروزي . وروسته یې دافغانستان په راډیو ټلویزیون کي په کار پیل وکړ چې هلته دبېلابېلو خپرونولیکونکی ،ویونکی اوچلوونکی وو.
له ۱۳۴۳ ل کال راهیسې یې دهیواد په مطبوعاتوکې شعرونه خپرېږي .یو زیات شمیر شعرونه ئي دافغا نستان دپښتو ژبو سندرغاړو لخوا دموسیقی په څپوکي کمپوز اوپه سندرو کې ویل شوی دي .
عبدالوهاب سرتیر له ۱۹۹۳ م کال راهسې په جرمني کي دخپلې کورنۍ سره یوځای دپردېسی ژوند تیروي .
درنو دوستانو!
غواړم په خوښي سره یادونه وکړم کله چې په ۲۰۰۰م کال کښې دسویډن دمالمو په ښا رکښې دافغانستان دادب اوسیاست دځلانده اونه هېرېدونکی ستوري اروانښاد ګل پاچا الفت دادبي ،فرهنګي ،سیاسي اوملي چوپړ ددرناوي په یادنړیوال سمینارجوړېده ،دهغه سمینار دجوړېدو مسولیت هم زماپر غاړه و ، مادنه شناخت په دنیا کښې ښاغلي سرتیر صاحب ته په دغه نړیوال سمینار کي دګډون لپاره بلنه ورکړه،سرتیر صاحب دهغه احترام اودرناوي له مخې چې الفت صاحب ته ئې درلوده دابلنه په ورینه ټنډه ومنل اوتشریف ئي راوړ . پدې غونډه کې دافغانستان وتلو شاعرانو ،لیکوالو ، سیاستوالو ،پوهانواوادیبانولکه اروانښاد بخرکی ،ډاکتر اکرم عثمان ،کاندید اکادمیسین محمد اعظم سیستاني ،عبدالباري جهاني اویوزیات شمر نورو پوهانو اوپه اروپاکې دفرهنګی ټولنومشرانو ګډون درلود . پدې علمي اوفرهنګی غونډه اوځانګړې مشاعره کښې ما ولیدل چې دغونډې دګډون کوونکو په منځ کي سرتیر صاحب څومره دروند اودقدر وړ ځای لري .

دعبدالوهاب سرتیر سره په مخامخ خبروکي له افغانستان اوافغانانوسره دهغه کوچیانۍ اوسپېڅلې مینه له ورایه ښکاري .
تر اوسه دښاغلي عبدالوهاب سرتیر دشعرونوڅومجموعې چاپ شوي دي لکه :
۱ . څیري ګرېوان
۲ .دکوثر جام
۳.دڅپوژبه
۴.سوی ډاګ
۵. چینه
۶. سمندر
۷.همیانۍ
۸. غرونه
۹.بڼ
اودوې نوري ټولګې ئي دښاغلي سرتیر صاحب په وینا دچاپ انتظار باسي . پدې هیله چي ډیر ژرد هغوي دچاپ زمینه هم برابره شي،ترڅودشعر اوادب دمینه والو تنده پري ماته شي،اوزموږ شعري پانګه نوره هم پري درنه شي .
زه دشعر دلوستلواوګران هیواد دشاعرانودعلاقمند په توګه دمسلک له مخې ځانته داحق نه ورکوم چي دښاغلي سرتیر صاحب پر شعري بهیر بحث وکړم داکار دغونډې نوروبرخه والوته پرېږدم. زه یوازي دومره ویلاي شم چي دښاغلي سرتیر صاحب په شعری انځورونواوشهکاریوکي انسانیت ،بشري عاطفه ،ملي احساسات، ګران افغانستان ،دزبرځواکوددنړیوالو اوسیمه ایزوسیالیوپه اورکي کړېدلي افغان ولس دپخواني او اوسني برم، شهامت ،صداقت پاکی اودوستی درسونه له ورایه لیدل کېږي .هغه پردئ هر څوک چي وي په خپله پاکه اومقدسه خاوره کي نشي منلاي اوپه کاڼوئي ولي تر څودده له ټاټوبي ورک اومخ ئي تورشي .
ښاغلي سرتیر صاحب په خپلو شعري هستونوکي دټولواجتماعی ناخوالواوناندریوسره دمبارزې ډګر اود زبرځواکوسره دډغرومیدان تود ساتلی اوله هغوي سره دقلم په مټ جګړه پرمخ بیایي ؛خوددې تر څنګ ئي طبیعت ، ښکلا ،مینه اومحبت انځورکړی .سرتیر صاحب دټولنیزو ناخوالواودده پر مېنه دتیري کوونکوسره دجګړې په میدان کي هم دښکلا اومیني خبري له خولې نه غورځوي . سرتیر خپله وایي ((مادشعر په هر ډګرکي نیلۍ ځغلولۍ دی )) خودسرتیر نیلۍ دومره ځغلي چي تر هیڅ سیال شاته ندی پاته شوی اونه هم دزمان وستونځوته تسلیم شوی دي ،سرتیردشعرپه ژبه زموږدهیواد غلیمان رسوااورټلي دي .
په یوه خبره سرتیرصاحب خپله سرتیري دشعر په نازکخیالورموزونو اوکینایوکښې داسي انځورکړې،چي هر لوستونکۍ هغه دپښتوشعر یوسرتیر اویاغي شاعربولي .
سرتیر صاحب سرښېره پردې چې پر تلاښه اوحماسی شاعر دی .هغه په زیات شمیر
سمپوزیمو ،سمینارو ،ملي او بین المللي غونډو او کنفرانسو کښې چي دافغانانوپه ګډون جوړ شوی هم برخه اخیستي ده . چي دسویډن دمالموپه ښارکي ددروان کال دسپتمبرله ۱۷ نه تر ۲۱مي پوري په ((European Social Forum)) کي رسمی ګډون ئي بهترینه بېلګه ده .

اغلو اوښاغلو!
دسرتیرصاحب شهرت او محبوبیت دهغه دبې ساري او بې پرې ادبي تلاښ اوزیار پایله ده. اوس دنړۍ په هر گوټ کښي افغانان دهغه له نامه اودشعرپه ژبه وطني دریځ سره پوره اشنایي لري .
دروان ۲۰۰۸ م کال دسپتمبر له ۱۷ نه تر ۲۱ مې پوري دمالمو په ښارکي دسویډن ددولتي اوفرهنگی اداروپه نوښت دایوروپین سوشل فورم ((European Social Forum)) په نوم یونړیوال علمي اوآدبي سمپوزیوم کي دگډون لپاره دبهرمیشتو افغانانو له جملې نه دافغانستان مشهورتاریخ پوه کاندید اکادمیسین محمد اعظم سیستاني دهیواد وتلې فرهنگی څېرې اوپیاوړي شاعري اغلي نجبي ساراببابانې، پیاوړي شاعر اوفرهنگي شخصیت عبدالوهاب سرتیرصاحب دبې بي سي راډیوتکړه ویاندي ،ځواني ژورنالستي اغلي نجیبې لیمې ته رسمی بلنه ورکړه شوې ده زمور ټولو لپاره دویاړ او افتخار ځاي دی ،ځکه ددې سپوزیم په تاریخ کي دلومړۍ ځل لپاره افغان لیکوالو اوشاعرانو ته دگډون بلنه ورکړه شوه .
درنو دوستانو!
څرنگه چې زموږ په نتی درنه ادبي غونډه کې زموږدهیواد پیژندل سوې پوهان ،لیکوال ،څیړونکی، ادیبان او شاعران برخه لري نه غواړم زموږ دهیواد ددې پیژندل سوی او منلي شاعر دشخصیت ،کارنامو ،ادبي هڅو او نوښتونو په هکله وږغیږم . دغونډې دکوربه په دود درنو پوهانو او روڼ اندوته وار ورکوم ،ترڅوهغه څه چې یې ددې ادبي شخصیت په اړوند دقلم په ژبه دکاغذپر مخ انځورکړې دغونډې ددرنو برخه والوسره شریک کړي .
په آخرکښي اجازه راکړه داحترام او درناوې په څرگندولوسره په سویډن کښي دافغانانو دعلمي او فرهنگي مرکز او دوستی فرهنگي ټولني دمشرتابه جرگو په استازیتوب یو ځل بیا تاسو ددې تاریخې غونډې برخه والو
ته کورودانی په وړاندې کولوسره څرگنده کړم چې ستاسو دالویه لورینه به زموږ هیڅ وخت هیره نشي چي تاسو دخپلو مصروفیتونوسره سره دروژې په میاشت کښي لطف وکړ اوپدې درنه ادبې غونده کي مودگډون لپاره زموږ بلنې ته لبیک ووایه ، په حقیقت کښي دا تاسو واست چې پخپل تشریف راوړلواوگډون سره مو دداسي درنې او ادبي غونډې جوړېدل شوني کړل ،بیاموهم کورودان ،بریاوي هوساینه ،بسیاینه اوخوښی مومل . خوښ اوسی